



دارډوبښکرولرونکی ګونګتی دژوند دوران




## لارواودتخريب نښی:

دونی په تنه کی دتونلونو یا سوریو موجودیت.

دونی څخه د اری دبورپه شکل دنصواری رنګه موادو راتوئیدل چی دغه نښـــی ددی معنی لری چی نوموړی حشـــره په ونه کی موجوده ده.

**خيړنه او کتنه:** هګی دآفت خیړنه لومړنی ګام ددغی حشری کنترول لپاره دی همدارنګه دنظارت اوخیـــړنـــی لپاره خاص تلکونه لکه قیف ډوله تلکونه فیرومونی ،دایـــروی ،اوبلاخـــره نوری تلکونه دی فیرومونی تلکونه دښـــــــځینه ګونګتی بوی تولیدوی او نارینه کونګتې راجلبوی اوپه تلک کښی نیول کیږی ولی یواځی ددغی حشروڅخه یوه نوعه ځانته جلبوی.



## کمیاوی او میخانیکی مخنیوی :

۱ – چنګګک لرونکی ســـیم پواســـــطه دونو له تنوڅخه دلاروا راویستل اوله منځه وړل . اویا دفارافینوتیل یا بل ډول ګازلرونکی حشره وژونکی په مالوچو ګګړول اوپه تونل کښی ایښودل او ورسته دډیری مودی لپاره ددی ســـوری په خټه یا کوم بل شـــی بندول دی تر څوحشره له منځه لاړه شی .

۲ –دانځرو دونو تنه دچونی محلول + ترایکلورفان پواسطه سپینول

۳– دشـــپی لخوا دنوری تلکونو اســـــتعمالول کوم چی نارینه حشری جلبوی او بیا ددی حشرو لمنځه وړل.

۴– له کیمیاوی کنترول نه مخکـــی باید وقایوی تدابیـــر په پام کښـــی ونیول شی اوټولی په آفت ککړی ونی باید له منځه یوړل شی او هغه آفت وژونکی باید استعمال شی چه راجســـتر شوی وی .

۵ – یو له هغو آفت وژونکو څخه فیـــروردان ،دپټـــر کس اویا ترایکلوروفان دونو له تنوڅخه شاوخوا استعمال اووروسته د با غ خړوبول . راجسترشوی درمل دحشـــری په کوربه نبات باندی استعمال شی ځکه دغه درمل دونی دتنی سوری کونکی چینجی په لومړۍ مرحله کی یعنی دځوانۍ مرحله کښـــی ښه تاثیر کوی او حشره له منځه وړی

## دصحتمندو تصدیقی نباتی موادو په اړه دافغانســـتان دنیالګیو روزونکو ملی مؤسسی(انګو) معلومات

پیوپاځرنګه چی دافغانستان دنیالګیو روزونکو ملی مؤســـــه په ټول هیواد کی فعالیت لری او خپلی ټولی چاری یی دصحتمندو، خپل اصل اونسل سره سمو نباتی موادو په تولید باندی راڅرخی ترڅو خپلوغړوته صحتمند نباتی مواد برابر کړی چی ددي موخی لپاره دبادام باغ دنباتی تکنالوژۍ لابراتور اوساحوی کارکونکو ســـره په همغږۍ دصـــحتمندو نباتی موادو دتولید پخاطر ټولی چاری پرمخ بیایی .



# د افغانستان د بنوالي د پرمختيا ملي موسسه

د بنوالي د خصوصي سکتور د پرمختګ د حمايه کول

# د اوږدو ښکرنو لرونکی ګونګتی




**پـته:** انډو، د زراعتي کـوپراتيفـونو تعـمير، بادام باغ، کابل، افغانستان

**ايميل:** info@afghanistanhorticulture.org

**ويب:** www.afghanistanhorticulture.org



دا پروګرام د اروپايي ټولني لخوا تمويليږي.

## تشریح:

دغه کونګټه د ونو دتنې سورې کونکې حشري په نامه هم یادیږې او د (cerambycidaefamily) کورنۍ پورې اړه لرې . اوږده ښکرونه لرونکې ده. (شکل – ۱) دغه کونګټه دونو له تنو څخه خپله غذا لاسته راوړې اوډیرزیان منځته راوړې اوحتي دونو دوچیدو سبب ګرځي . په افغانستان کښې دغه کونګټه توت ، انځر اوزیاتره ځنګلي ونې لکه چنار ،نښتر اوداسې نورې ونې زیامنوې.

د PHDPII د IPM دآفاتو او امراضودهراړخیز کنترول مسؤل په هغه لیدنه کښې چه په ۲۰۱۴ کال کښې یې دشرقي زون له ملي کلکسیون (فارم جدی)څخه کړې وه په نوموړې فارم کښې ددغې کونګټې زیان رسول دانځروپه بوټو کښې لیدل شوې وو ولې خوشبختانه دفارم مسؤل ډیر ژر دغه حشره کنترول کړه.

ډیر خلک په دې باوردې چه دغه حشره له پاکستان څخه دچنارو لرګې چه افغانستان ته وارد یږې او په دې حشري ککړوې خپره شوې ده خصوصآ دهیواد په شرقي برخوکښې .لیدل شوې دې دغه حشره په پاکستان ،اردن ،دچین جنوبي برخې اوهندوستان کښې لیدل شوې ده چه اکثرآ میوه داري ونې لکه ام Mango، اوکادو ، Avocado چکوتره Grape Fruit،منې Apple او سخت زړې Stone Fruit ، اوهم ځنګلي او غیر میوه داري ونې تر خپلې حملې لاندې راولې لکه وله willow،سروه Cypresses اوداسې نور.

ددغې حشري کوربه نباتات لاندې میوه داري ونې دې انځر Fige، آم Mango ، امروت Guava،چکوتره Grap fruit،بیره Jujube، آنار Pomegranate منې Apple ، سخت زړې Stone Fruit او چارمغز Wulnutدې.



دیوې سروې له مخې په هندوستان کښې ددغې حشري ۱۰۰ نوعه کوربه نباتات پیژندل شوې دې.

## زیان رسونه:

دونې په تنې کښې تونلونه جوړوې اودنبات له شیرې څخه استفاده کوې پدې وخت کې دحشرې لاروا انکشاف کوې او د نبات دپانې اومیوې تولید زیانمنوې .

ددغې حشري لاروا دمېودونو تنې سورئ کوې اوحتی ټول انساجو ته دغه تونل ایستنه ادامه پیداکوې لارواکاره واړه سورې دونې په تنې کښې اوباسې او خپل ځان ته انکشاف ورکوې اودیو واقعي کوربه په شکل دنبات په انساجو خپل ژوند ته ادامه ورکوې. دغه لاروا دونې په تنې باندې حلقي جوړوې اودانساجو شیره زبیښې دغه عمل دانساجو دزخمي کیدو سبب ګرځي اوناروغیوته لاره هواروې دغه لاروا کیدای شي تر دوه کالوپورې دونې په تنه کښې پاتې شي اودونې اوښاخونو دکمزورې کیدو سبب وګرځي.

**دآفت دتغذې څرنګوالې:** ددغې حشري دخوښې نبات دانځرووني دي اونومړوونو ته ډیر زیان رسوي.

دژوند تاریخچه : ښځینه کونګټه دوني پوستکي پرې (جروهنه) کوې اوخپلې هګې په جلا ډول دپرې شوې پوستکي لاندې اچوې. دغه کونګټه دپسرلي په فصل(ثورې –جوزا) کې تر ۱۰۰ دانو پورې هګې دونې په تنه کښې اچوې دوه هفتې ورسته هګې په لاروا بدلیږې اوپه خوراک شروع کوې ( ۲ – شکل ) اودونې په تنه کښې تونل کشې ته ادامه ورکوې دونې دکمزورې کیدو سبب ګرځي .



## پیوپا (شفیره) :

دپیوپا (کونګټه) مرحله:

ددغې حشرې دپیوپا مرحله کښې رنګ سپین مایل زیرورسته دغه رنګ په نصواری تور باندې بدلوې مخکې له دې چه په یوې کاملې حشري باندې بدله شي دغه دوره له ۸–۱۰ ورځوپورې تکملوي اوپه کامله کونګټه باندې بدلیږې .ورسته له جفت ګیرې څخه ښځینه حشره دیوه واړه سورې پواسطه چه دپانې په ډنډر یا تانده څانګه کښې جروهې اوخپلې هګې پکښې اچوې.

ځوانه کونګټه دپسرلي په موسم کښې را پیدا دونو پانې ،میوې ، اونودې د خپل کوربه په شکل انتخابوي اوخپل غذايي مواد لدې لارې لاسته راوړې اودزیان سبب ګرځي . ددغه کونګټې اندازه تر ۷۰ ملی مترو پورې رسیږې ددوه ښکرونو یا آنتنونولرونکې ده څرمن ډوله خال لرونکې وزرونه لرې دسینې مخکینۍ حصه یې سپینه اوروسته له مړه کیدو کمرنګه سپین ژیر رنګ باندې بدلیږې خپل دژوند دوران په ۲ کلونو کښې تکمیلوې ددغې کونګټې خپریدل دچین جنوبي برخو ،داسیا جنوب شرق دهندوستان په شمول تر منځنې ختیځ پورې رسیږې دغه ریکارډ د WY Niger پواسطه په ۱۹۴۲ کال کښې ثبت شوې دې .



د اوږدو ښکرونو لرونکې کونګټې شکل ۱